# د لوګر ولایت پر برکي برک ولسوالۍ د سیلابونو د اغېزو ارزونه

نامزد پوهنیار شریف الله پیروز[۱]، پوهنیار کاوون سهاک[۲]، پوهنیار مجیب‌الله مجیب[۳]

[۱] د پېښو د مدیریت ډیپارټمنټ، د چاپېریالي علومو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

[۲] د چاپېریالي علومو ډیپارټمنټ، د چاپېریالي علومو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

[۳] د طبیعی زیرمو ډیپارټمنټ، د چاپېریالي علومو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

ایمیل: sharifbuarki@gmail.com

**لنډیز**

سیلاب یوه طبیعي پېښه ده چې د ډیرو او دوامداره اورښتونو، واورو ویلې کېدو او یا د دواړو د یو ځای کېدو په پایله کې رامنځته کېږي او د ګڼو اقتصادي، ټولنیزو، چاپېریالي او روغتیايي ستونزو سبب کېږي. د دې څېړنې موخه په برکي برک ولسوالۍ باندې د سیلابونو د اغېزو ارزونه ده. د څېړنې میتود ساحوي بڼه لري او د پوښتنپاڼې پوسیله چې د ۱۴ معیاري پوښتنو ټولګه ده مالومات د نوموړې ولسوالۍ له ۲۷۰ تنو اوسیدونکو څخه راټول او د اکسیل پروګرام په وسیله تحلیل او تجزیه شویدي. پایله په ډاګه کوي چې نوموړې ولسوالۍ د لوګر په کچه له مرکز پل علم وروسته دویمه ولسوالۍ ده چې په زیاته اندازه نفوس یې د سیلابونو پر وړاندې زیانمن دی. د دې ولسوالۍ کرنیزې ځمکې، استوګنځایونه ، څاروي، اوسېدونکي او مواصلاتي لاري د سیلابونو پر وړاندې زیاتې اغېزمنې دي او دې پایلې ته په کتو وړاندیز کېږي چې باید دولت د لوګر سیند په حریم کې د خلکو د مداخلې مخه ونیسي، ځنګلونه پرې نه شي او د سیلابونو پر وړاندې د خبرورکونې او وړاندوینې سیستمونه رامنځته کړي.

**کلیدي اصطلاحات**: سیلاب؛ اغېزې؛ ارزونه؛ برکي برک؛ د وړاندوینې سیستمونه

# Assessing the Impacts of Floods on Baraki Barak District of Logar Province

**Jr. Teaching Asst. Sharifullah Peroz[1], Jr. Teachnig Asst. Kawon Sahak[2], Jr. Teachnig Asst. Mujeebullah Mujeeb[3]**

[1]Department of Disaster Management, Faculty of Environmental Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan

[2]Department of Environmental Sciences, Faculty of Environmental Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan

[3]Department of Natural Reources, Faculty of Environmental Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan

Email: sharifbuarki@gmail.com

**Abstract**

Floods, natural occurrences stemming from heavy rainfall, snowmelt, or their combination, pose significant economic, social, environmental, and health challenges. The objective of this research is to evaluate the effects of floods on the Baraki Barak district. The research methodology employed is field-based, utilizing a questionnaire comprising 14 standardized questions. Data were collected from 270 district residents and analyzed using Microsoft Excel. Results indicate that Baraki Barak ranks as the second most vulnerable district to floods after Pul-e-Alam. Croplands, residential structures, livestock, habitation, and small connecting roads are particularly susceptible to flood damage. Based on these findings, it is recommended that the government take preventive measures to discourage human encroachment in the Logar River basin, implement initiatives to curb deforestation, and establish flood warning and forecasting systems.

**Keywords:** Flood; Impacts; Assessing; Baraki– Barak; Forecasting Systems

**سریزه**

په سیندونو کې د اوبو د کچې لوړېدل او د هغه وتل له اصلي لارې څخه په غیر معمولي توګه چې د ټولنیزو، اقتصادي او چاپېریالي زیانونو لامل وګرځي د سېلاب څخه عبارت دی. اوبه که ډېرې شي د سېلاب او که کمې شي د وچکالۍ لامل کېږي (۱). باید داسې مدیریت شي چې د دوارو طبیعي پېښو د رامنځته کېدو سبب نه شي. له هغه وخت را هیسې چې انسانانو د ځمکې پر مخ ژوند پیل کړي، دېلابېلو پېښو د رامنځته کېدو سبب هم شویدي. چې د ځنګلونو پرې کول يې يو تر ټولو ښه مثال دی چې په مستقیمه توګه د سیلابونو په رامنځته کېدو کې مهم رول لري (۲). افغانستان هغه هېواد دې چې د بېلابېلو طبیعي پېښو سره لاس او ګریوان دی. چې مهمې يې له زلزلې، سیلابونه، ځمکښوېدنې، واورې ښویدنې، وچکالي او شګلنو طوفانونو څخه عبارت دي. سېلابونه په افغانستان کې تر پینځو لسیزو مخکې له خطر څخه ډکې موسمي پدیدې بلل شوي دي. دا چې سیلاب یوه طبیعی پېښه ده چې د دوامدارو، شدیدو اورښتونو، واورې ویلې کېدو او یا د دواړه د يو ځای کېدو په پایله کې رامنځته کېږي (۱).

دا هېواد د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې د سیلابونو پر وړاندې زیانمن دی. د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه يې ۲۱ ولایتونه د سیلاب له ګواښ سره مخامخ دي. سیلابونه په منځني ډول هرکال ۵۴ ملیونه ډالر مالي زیانونه دې هېواد ته اړوي. دا په داسې حال کې ده چې لوی سیلابونه له ۵۰۰ ملیونو ډالرو زیات زیانونه زیربناوو ته رسوي (۳). هغه اووه ورځني سیلابونه چې په ۲۰۱۸ او۲۰۱۹ کال کې په هرات، کندهار، فراه، بلخ، سمنګان، تخار، کاپیسا، بغلان، بدخشان، بادغیس، غور، پنجشیر، سرپل، غزني او پروان ولایتونو کې رامنځته شوی وو په پایله کې يې په سلګونو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او د ډیرو نورو د تېپي کېدو لامل شویدي (۴). بل دا چې نه یوازې د څو لسیزو جګړو او ورانیو قرباني وو بلکې د طبیعي پېښو په وسیله هم ځپل شوی دی، چې سیلاب او وچکالي ورته د پام وړ زیان اړولی دی. هغه سیلابونه چې په ۲۰۰۵او ۲۰۰٦ م کلونو کې په دې هېواد کې پیښ شول په زرګونو کورنۍ يې بې کوره کړې او کرنیزې ځمکې، اهلي حیوانات او زیرمې يې ویجاړې کړې (۱) .

لوګر ولایت د هغو ولایتونو له ډلې څخه دی چې سیلابونه په کې په زیاته پیمانه رامنځته کېږي. دا چې د نوموړي ولایت ۸۵ سلنه خلک په کرنه بوخت دي (۵). سیلابونه هم د کرنیزو ځمکو د تخریب لامل کېږي. په دې څېړنه کې د برکي برک په ولسوالۍ باندې د سیلابونه داغېزو ارزونه ترسره شویده. په زیانمنو سیمو کې پخپل سر د کورونو جوړول، د ځنګلونو پرې کول، د چاپېریال تخریب، د ودانیو په جوړولو کې د انجینري سټنډرډونو ته نه پاملرنه، دسیندونو په حریم کې مداخله، شدید اورښتونه، پیچلی جغرافیوي جوړښت، او د عامه پوهاوي نشتوالی هغه لاملونه دي چې نوموړې ولسوالی يې دسیلابونو پر وړاندې زیانمنه کړیده (٦). او سیلابونه په کې د ډیرو مالي، ځاني ، اقتصادي او کرنیزو زیانونو سبب شویدي.

**شالید**

سیلاب طبیعي پېښه ده. چې د مالي، ځاني، اقتصادي او کرنیزو زیانونو سبب کېږي (۷). په نړیواله کچه د نورو پېښو په نسبت له سیل څخه زیات خلك اغیزمن کېږي (۸). سیل د ۲۰۱۴م کال د اپریل میاشتې له ۲۴-۳۰ نیټې پورې دافغانستان په شمال کې (۱۰۰۰۰) کورنۍ او (۷۰۰۰۰) کسان په لسو شمالي، شمال شرقي او شمال غربي ولایتونو کې زیانمن کړل (۹). د یوې ارزونې په پایله کې معلومه شوه چې ۴۵۰ کسان مړه، ۲۱۴ زخمي او له ۸۰۰۰ زیات کورونه وران شوي وو. څېړنې ښیي هغه سیلابونه چې (۱۸اپریل ۲۰۲۰)میلادي کال په بغلان ولایت کې رامنځته شول د پام وړ ویجاړیو اومالي زیانونولامل شول (۱۰). په افغانستان کې د سیلابونو او د هغو د لاملونو په اړوند معلومات خورا کم دي، د نظارت سیستم شتون نلري او تر اوسه پورې د باران شدت په دقیق ډول ندی اندازه شوئ. څېړنې ښیي چې اقلیمی بدلونونه په ځانګړي ډول د تودوخې لوړوالی او بې وخته بارانونه هغه څه دي چې په افغانستان کې د سیلابونو د پیښیدو سبب کېږي (۱۱). هغه څېړنې چې په ویتنام هېواد کې تر سره شوې ښیي چې له ۱۹۹۶تر۲۰۱۵ م کال پورې ویتنام په اسیا کې هغه هېواد وو چې ټایفون او سیلابونو زیات زیانمن کړی وو (۱۲).
سیلابونه د ډیرو انساني او ټولنیزو زیانونو لامل شوی وو. د ویتنام حکومت له سیلابونو سره د مقابلې لپاره جوړښتیزو اقداماتو، بندونو او خبرورکونې له سیستم څخه استفاده کوله. ولې وروسته په ډاګه شوه چې بنسټیزه ستونزه د سیلابونو د خطر ارزونې لپاره په ملي او سیمه ایزه کچه د چارچوب او خطر ارزونې میتودونو نشتوالی دی. چې وروسته بیا  نوموړې ستونزې ته د حل په موخه چارچوبونه او د خطر ارزونې میتودونه رامنځته شول. یوه بله څېړنه ښیي چې کمبودیا د ویتنام ګاونډی هېواد دی چې ګډه پوله ورسره لري. لومړني کرنیز تولیدات یې وریجې او دوهم یې سبزیجات دي. په دې وروستیو کلونو کې یې د سختو سیلابونو له امله پاخه او خاورین بندونه ، د اوبو د توزیع سیستمونه تخریب شول. کرنه او کورنۍ یې زیانمنې شوې، کورونه وران شوي، مکتبونه، لارې، سړکونه، روغتونونه او ټولنیز بنسټونه یې تخریب او انسانان ووژل شول. چې له امله یې  نوموړی هېواد د اقتصاد له ضعف، غذا کموالي، روغتیایي ستونزو او بالاخره د لوږې او فقر سره مخامخ کړ (۱۳).

**موخې**

له دې څېړنې څخه هدف د سیلابونو پر وړاندې د برکي برک ولسوالۍ د زیانمنې کچې ارزونه ده. همدارنګه د هغو لاملونو پیژندل دي چې د سیلابونو پر وړاندې د نوموړې  ولسوالۍ د زیانمنیدو لامل کېږي. او په نوموړې ولسوالۍ باندې د سیلابونو اغېزې ارزول کېږي تر څو ورته حل لارې ولټول شي.

## د څېړنې کړنلاره

دا څېړنه د ساحوي څېړنې بڼه لري. چې د لوګر ولایت برکي برک ولسوالۍ کې ترسره شویده. د نوموړې ولسوالۍ نفوس ۹۷۴۷۱ تنو ته رسیږي. چې له ډلې یې له ۲۷۰ تنو څخه ۱۴ معیاري پوښتنې د پوښتنپاڼې په بڼه تر سره شویدي. په پوښتنپاڼه کې په نوموړې ولسوالۍ کې د سیلابونو راوتلو لاملونه، اغېزې، ډیر زیانمن قشر، د زیان کچه، له سیلاب تر مخه وړاندوینه، د تخلیې لپاره امن ځای او د دولت او ټولنې لخوا د سیلابونو پر وړاندې اخیستل شوي ګامونه په کې ځای پرځای شویدي. د څېړنې نتایج ۹۰سلنه مطمئن او یواځې ۵ سلنه تیروتنې لري چې د مورګن فرمول پر اساس باندی نمونه ګیری ترسره شوې. سربیره پر دې له کتابخانه اي مدارکو (مقالې، ژورنالونو ،راپورونو او کتابونو) څخه هم په کې ګټه اخیستل شوې. لاس ته راغلي معلومات د Excel او GIS برنامو په وسیله تحلیل او تجزیه شویدي.

## د څېړنې ساحه

د دې څېړنې ساحه د لوګر ولایت برکي برک ولسوالۍ ده. نوموړې ولسوالۍ د ۹۷۴۷۱ تنه نفوس او ۲۴۰ کیلو متر مربع مساحت درلودونکې ده.




لمړی انځور: د لوګر ولایت د اداری واحدونو او برکي برک ولسوالۍ نقشه (GIS)

## د څېړنې پوښتنې

۱. په برکی برک ولسوالۍ باندې د سېلابونو منفي اغېزې څه دي؟

۲. په برکی برک ولسوالۍ باندې د سېلابونو د اغېزو لاملونه کوم دي؟

۳. په برکی برک ولسوالۍ باندې د سېلابونو اغېزو د کمونې او مخنیوي لپاره له کومو لارو چارو کار واخیستل شي؟

## موندنې او مناقشه

د لوګر ولایت اقلیمي او طبیعي جوړښت ته په کتو له یوشمېر طبیعي پیښو لکه وچکالي، غرښویدنې، ځمکښویدنې، واورې ښویدنې او زلزلو سره لاس او ګریوان دی. چې د نوموړي ولایت زلزلې تر ډېره د

چمن- مقر له فعالې ماتې څخه رامنځته کېږي (۱۴). د نوموړې ولایت تاریخچې ته په کتو سیلاب هغه طبیعي پېښه ده چې وخت نا وخت په دې ولایت کې رامنځ ته کېږي. دغوایي (ثور) د میاشتې سیلابونه یې مشهور سیلابونه دي چې د پسرلي په موسم کې به رامنځته کېدل. ولې وروستیو څو کلونو کې د سیلابونو راوتلو موسم کې ښکاره بدلون راغلی او د جوزا، سرطان او اسد میاشتو کې د سیلابونو راوتلو ګڼې ستونزې راولاړې کړې دي. په برکی برک ولسوالی باندې سېلابونو د اغېزو د ښې او هر اړخیزې ارزونې او د کره معلوماتو راټولولو په موخه مو یوه پوښتنپاڼه چمتو کړه چې په ۹۷۴۷۱ نفوس کې له ۲۷۰ تنو څخه ۱۴ معیاري پوښتنې د پوښتنپاڼې په بڼه ترسره شویدي. د ګواښ لاندې سیمو کې په خپل سر د کورونو جوړول، د ځنګلونو پرې کول ، د چاپېریال تخریب ، په غیر پلانی توګه د ودانیو جوړول چې په کې هیڅ ډول انجینری ستندردونه په نظر کې نه نیول کېږي، اقلیمی بدلونونه، د خلکو نه پوهاوی او د سیندونو په حریم کې د خلکو لاس وهنه، نوموړې سیمې ته د دولت نه پاملرنه او د سیمې پیچلې جغرافیوي جوړښت هغه لاملونه دي چې نوموړې ولسوالۍ یې د سیلابونو له ګواښ سره مخامخ کړې ده (۱۴). د یادولو وړ ده چې نوموړې ولسوالي له مرکز پل علم څخه وروسته د لوګر په کچه دوهمه ولسوالی ده چې زیات نفوس لري. د سیلابونو پر وړاندې د نوموړې ولسوالی د زیانمنیدو کچه لوړه ده. د نفوس له ډلې یې ۱۲۰۶۶ تنه په ټیټه کچه، ۱۲۶۰۵تنه په منځنۍ کچه او ۸۱۲۹ تنه په لوړه کچه د سیلابونو پر وړاندې زیان منونکې دي (۱۴). پر دې بنسټ ویلای شو چې له مرکز پل علم وروسته دوهمه ولسوالی ده چې په زیاته اندازه نفوس یې د سیلابونو له ګواښ سره مخ دی. همدارنګه د نوموړې ولسوالی د ۲۴۰ کیلو متر مربع مساحت له جملې څخه یې ۱۸,۱کیلومتر مربع له کم ، ۲۰,۶کیلومتر مربع یې له منځنې او ۱۳,۴ کیلومتر مربع مساحت یې د سیلابونو پر وړاندې له زیات ګواښ سره مخامخ دی (۱۴).

**د پوښتنپاڼې تحلیل**




لمړی ګراف: په ترتیب سره د سیلابونو پیښیدل، له سیلابونو زیانمنیدل، عامه پوهاوي، د سیلابونو وړاندوینه ، د سیلابونو پر مهال امن ځای، د سیلابونو پر وړاندې شخصي او دولتي کړنې او د دولت له لوري د ویجاړو شویو سیمو بیارغونه ښیي

په (۱) گراف کې په مجموعي ډول اته پوښتنې د برکي برک ولسوالۍ د وګړو له لوري ځواب شوېدي. لومړي پوښتنه چې ایا ستاسو په سیمه کې سیلابونه رامنځته کېږي ورته ۱۷۰ کسانو هو ځواب ویلی دي. دا د دې ښکارندویي کوي چې ډېری ځواب ویونکي د هغو سیمو اوسیدونکي وو چې د سیلابونو له ګواښ سره مخ شوي وو په دې ولسوالۍ کې سیلابونه له مهمو پیښو شمیرل کېږي چې هر کال د مړینې، ټپي کېدنې، ورک کېدنې، بیځایه کېدنې او کرنیزو محصولاتو د له منځه تلو سبب کېږي. دوهمه پوښتنه دا ده چې له سیلابونو څخه زیانمن یاست په ځواب کې یې ۲۱۰ تنو هو ویلي مانا دا چې ډېری ګډونوال له سیلابونو څخه زیانمن وو. هغو زیرمو ته چې زیان رسیدلی وو زیاتره یې کرنیزې ځمکې، استوګنځایونه، څاروي او د تګ راتګ لارې وې. دریمه پوښتنه د عامه پوهاوي په اړه وه چې ۲۱٦ کسانو ورته د هو ځواب ویلی او دا په ډاګه کوي چې د نوموړې ولسوالۍ اوسیدونکي د سیلابونو اړوند پوهه لري، سیلاب پیژني، ورسره مخامخ شویدي او په ټولنیزه توګه یې د مخنیوي پر وړاندې اقدامات هم ترسره کړي ولې په علمي او تخنیکي توګه یې د مدیریت په لارو چارو نه پوهیږي. څلورمه پوښتنه د سیلابونو د وړاندوینې په هکله مطرح شوې چې ګډونوالو له ډلې ۱۴۷ تنو ورته د نه ځواب ویلي او دا ښیي چې ډېری خلک د سیلابونو له وړاندوینې نه خبریږي او ځینې نور بیا ډېرو ابتدایي وسایلو ته د سیلابونو د وړاندوینې په موخه لاس رسي نه لري. پنځمه پوښتنه د سیلاب څخه د تخلیي (ایستنې) لپاره د کوم خوندي ځای اړوند شوې چې ډېرو ګډونوالو بیا ورته د هو ځواب ورکړي چې شمیر یې ۱۷۰ تنو ته رسیږي. په کلیوالو ټولنو کې زیاتره خلک د پیښې پر مهال د غرونو ، غونډیو، مکتبونو، جوماتونو ، عمومي سالونونو، خپلوانو او د مخورو خلکو له کورونو څخه چې د سیلاب پر وړاندې خوندي وي یا په لوړه سیمه کې موقعیت ولري د تخلیي لپاره ګټه اخلي او خپل مال او اولادونه د سیلاب د پیښیدو پر مهال هلته بیایي. شپږمه پوښتنه د سیلاب پر وړاندې د شخصي اقداماتو په هکله ترسره شویده چې ډېری ځواب ویونکو ورته د هو ځواب ویلي مانا دا چې خلک په ټولنیزه توګه د سیلابونو څخه د مخنیوي ، ځواب ورکونې او یا یې د ګواښ کمونې لپاره په شخصي ډول کړنې ترسره کوي دا کار په ځانګړي ډول هغه ټولنې هم په ښه ډول ترسره کوي او ترسره کولای یې شي چې د پیښې له ګواښ سره لاس او ګریوان وي هغه څېړنې چې په ۲۰۱۸ م کال کې د هندوستان هېواد په جنوب غربي ایالت کیرالا کې ترسره شویدي ښیي چې د ټولنو ګډون د پیښو مدیریت په پروسو کې په ځانګړي ډول د ځواب ورکونې او بیارغونې په برخه کې خورا د ارزښت وړ دي (۱۵). اوومه پوښتنه د دولت د کړنو او اقداماتو په اړه تر سره شویده چې د سیلابونو پر وړاندې یې په نوموړې ولسوالۍ کې ترسره کړیدي. له ډلې یې ۱۳۷ کسانو د نه ځواب ویلی ځکه چې دولت د سیندونو د حریم ساتنې لپاره د استنادي دیوالونو، کانکریټي ویالو، وړو بندونو کړنې سرته رسولې دي

ولې بیا هم په کافي اندازه ندي. او همدارنګه اتمه پوښتنه هم د دولت کړنو په اړوند ترسره شویده چې ایا د سیلابونو په وسیله وران او ویجاړ شوي ځایونه یې بیرته رغولي او کنه چې ډیرې کسانو ورته د هو ځواب ویلی دي چې شمیر یې ۲۱۱ کسانو ته رسیږي. له سیلابونو وروسته ډیری ویجاړ ځایونه د دولت لخوا رغول شوي چې د لارو پر سر د پلونو ، عمومي لارو او استنادي دیوالونو څخه یادونه کولای شو.




دویم ګراف: له سیلاب څخه د زیانمنیدو کچه، سیلابي موسم او له سیلابونو ډېر زیانمن قشر ښیي.

په دویم ګراف کې د سیمې له وګړو دري پوښتنې مطرح شویدي چې لومړی یې د سیلاب څخه د زیانمنیدو کچه ښيي چې لوړه ده او ډیری د سیمې وګړي د سیلابونو څخه زیانمن شویدي خو هغه څوک چې زیات زیانمن دي له هغو کورنیو څخه عبارت دي چې استوګنځایونهاو یا یې کرنیزې ځمکې د سیند دواړو غاړو ته نږدې پرتې دي دا خلک د ژوند نور امکانات کم لري او ډیری یې په کرنه بوخت دي. فقر او په معیاري ډول د کورونو نه جوړول هم یو له هغو لاملونو څخه دی چې د وګړو د زیانمنیدو سبب کېږي. سیلابونه په پرمختللو او مخ پرودې هیوادونو کې هم یو له مهمو پیښو څخه شمیرل کېږي او همدارنګه په نړیواله کچه د ناروغیو او مړینې اصلي لامل هم دي (۱٦).

دویمه پوښتنه د سیلابی موسم اړوند ترسره شوې او په زیاته اندازه وګړو د اوړي موسم د سیلابونو د رامنځته کېدو اصلي موسم بللی دی. د نوموړي ولسوالی او په ټوله کې د لوګر ولایت د غوایي میاشتې اورښتونه ډیر مشهور دي چې په عامه اصطلاح ورته خلک ثوري بارانونه وایي کوم چې د ثور په میاشت کې رامنځته کېږي او د سیلابونو لامل هم کېږي خو اوس مهال د سیلابونو راوتلو موسم هم تر ډیره بدلون کړی او دا سیلابونه د اقلیمي بدلونونو په پایله کې اوس د اوړي په موسم کې رامنځته کېږي او د خورا

زیاتو کرنیزو ځمکو د زیانمنیدو سبب کېږي. څېړنې ښيي چې اقلیمي بدلونونو د افغانستان د اوبو زیرمو، کرنې، ځنگلونو، ژوند بڼو او چاپېریال ته د پام وړ زیانونه اړولي دي (١٦). هغه څېړنې چې په زیمبابوې هېواد کې تر سره شویدي په ډاگه کوي چې نوموړی هېواد له دوه ډوله سیلابونو سره مخامخ دی. یو سیمه ایز موسمي اورښتونه دي چې په پایله کې یې اوبه د سیند له اصلي مسیر څخه زیاتیږي او د سیلابونو سبب کېږي دویم ډول یې د سایکلون سره مل اورښتونه دي چې د سیلابونو سبب کېږي ولې مهم او ډېر ورانونکی یې لومړی ډول دی چې د موسمي سیلابونو بڼه لري. او تر ډېره د جنوري او فبروري په میاشتو کې رامنځته کېږي چې د کال په اوږدو کې په دې میاشتو کې د اورښتونو اندازه لوړې کچې ته رسیږي (١٧).

دریمه پوښتنه د هغو کسانو اړوند معلومات وړاندې کوي چې د سیلابونو پر مهال زیات زیانمن کېږي. دلته تر ټولو زیات زیانمن قشر ماشومان ښودل شوي دي. د ۲۷۰ تنو گډونوالو له ډلې ۱۱۴تنو ماشومان زیات زیانمن ښودلي په دوهمه زیانمنه ډله کې سپین ږیري او په دریمه زیانمنه ډله کې ښځو ته یادونه شویده. دا درې ډلې چې پورته ورڅخه یادونه وشوه د زیانمنونکو ډلو څخه شمیرل کېږي او په مجموعي ډول یې د بدن وړتیا د پیښو پر وړاندې په ټیټه کچه وي. د یادولو وړ ده چې ماشومان له سیلابونو څخه په مستقیمه توگه ندي اغېزمن شوي ولې په غیر مستقیمه توگه ترې زیات اغېزمن شویدي. د دې اغېزو له ډلې یو هم په بېلابېلو ناروغیو د ماشومانو اخته کېدل دي چې نس ناستې، کولرا او تنفسی ناروغیو څخه یادونه کولای شو. هغه لاملونه چې د پیښو پر مهال د ماشومانو د زیانمنتې سبب کېږي د بې ځایه کېدنې، بیروبار، نامناسب چاپېریال، د پاکو اوبو او د یوه سالم حفظ الصحوي سیستم د نشتوالی څخه عبارت دي (١٨). سیلابونه په یوه سیمه کې اوسیدونکي ټول وگړي یو شان نه زیانمنوي. د زیان کچه د زیانمنتې په کچه پورې تړلې ده معنا داچې زیاتره هغه وگړي زیات زیانمن کېږي چې د زیانمنتې کچه یې لوړه وي. د حامله ښځو ژوند گواښي او په ماشومانو کې د رواني، فزیولوژیکي او تناسلي ناروغیو د ډېرېدو سبب کېږی (١٩).

لمړی جدول: په ترتیب سره د سیلاب اړوند خبرتیا سیستم، زیاتی زیانمنی برخی او د سیلاب ډول په گوته کوي

| شمیره | پوښتنې | راډیو | تلویزون | نور |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ستاسو په سیمه کی د سېلاب د خبرتیا په اړه، کومې رسنی رغنده رول لوبولی دي؟ | ۵۲ | ۱۴۹ | ٦۹ |
| ۲ | سېلابونه ستاسو د ژوندانه کومې برخې زیاتې تر اغېز لاندې راوستې؟ | ټولنیز ژوند | کرهنیزې ځمکې | څاروی |
| | | ۴۵ | ۱۸۹ | ۳۸ |
| ۳ | کوم ډول سېلاب زیات خلک زیانمن کړي دي؟ | فصلي | ناڅاپي | |
| | | ۱۵٦ | ۱۱۴ | |

په لومړي جدول کې لاس ته راغلې پايلې ښيي چې په نوموړې ولسوالۍ کې د سيلابونو راوتلو اړوند معلومات د سيمې خلک په زياته اندازه د ټلويزيونونو له لاري تر لاسه کوي چې ۱۴۹ کسانو غوره کړې دي په دويمه درجه کې بيا خلک له نورو خواله رسنيو خبريږي تر ټولو مهم يې د فيسبوک بېلابېلې رسمي پاڼې دي چې وخت پر وخت د اوبو او هوا، اوربښت او همدارنګه د سيلابونو راوتلو په اړه مالومات خپروي او راډيو هم له سيلاب څخه د خلکو په خبرولو کې مهم رول لري چې تر ټولو ټيټه درجه کې راغلې ده مانا دا چې د ټکنالوژي په پرمختګ سره خلک اوس په کمه اندازه راډيو اوري. همدارنګه له سيلابونو څخه زياتې زيانمې برخې کومې دي د پوښتن پاڼې پايلې څرګندوي چې زياتره خلکو يعنې د ۲۷۰ تنو ګڼون کوونکو له ډلې يې ۱۸۷ تنو د سيلابونو پر وخت کرنيزې ځمکې او محصولات له لاسه ورکړې دي، ولې ټولنيز ژوند، څاروي او استوګنځايونه يې هم له ناوړه اغېزو خوندي ندي. د طلوع نيوز د راپور پر اساس کوم سيلابونه چې د لوګر ولايت په خوشي ولسوالۍ کې په ۲۰۲۲م کال کې رامنځته شوي وو ښيي چې په پايله کې يې ۲۰تنه مړه شوي وو چې له ډلې يې ۹ تنه ښځې، ۹ تنه ماشومان او ۲ نور نارينه وو. همدارنګه ۳۰ تنه ټپيان او په زرګونو هکتاره کرنيزه ځمکه او په سلهاوو کورونه هم په کې تخريب شوي او له منځه تللي وو (۲۱). څېړنې ښيي کوم سيلابونه چې د ۲۰۱۴ م کال په سپتمبر مياشت کې د پاکستان هېواد په پنجاب، ګلګت بالتستان او ازاد جمو -کشمير سيمو کې رامنځته شوي وو له يو مليون هکټاره زياته کرنيزه ځمکه او ۲۵۰۰۰۰ تنه بزګر ترې اغېزمن شوي وو (۲۰). دا چې کوم ډول سيلابونه زيات زيان خلکو ته اړوي پايلې ښيي چې موسمي سيلابونه له ناڅاپي سيلابونو زيات خطرناک دي او د نوموړې ولسوالۍ خلکو ته په درانه قيمت تماميږي.

**پايلې**

سيلاب يوه طبيعي پېښه ده چې د ګڼو ستونزو سبب کېږي. برکي برک ولسوالۍ د سيلابونو پر وړاندې ډېره زيانمنه ده او له مرکز پل علم وروسته دويمه ولسوالۍ ده چې په زياته اندازه نفوس يې د سيلابونو تر ګواښ لاندې دی. په دې ولسوالۍ کې د سيلابونو وړاندوينې لپاره کوم سيستم تر اوسه پورې شتون نلري. د نوموړې ولسوالۍ د ۲۴۰ کيلو متر مربع مساحت له جملې څخه يې۱۸,۱کيلومتر مربع له کم، ۲۰,۶کيلومتر مربع يې له منځنې او ۱۳,۴ کيلومتر مربع مساحت يې د سيلابونو پر وړاندې له زيات ګواښ سره مخامخ دی(۱۴). په زيانمنو سيمو کې پخپل سر د کورونو جوړول، د ځنګلونو پرې کول، د چاپېريال تخريب، د ودانيو په جوړولو کې انجينري ستنډرډونو ته نه پاملرنه، دسيندونو په حريم کې مداخله، شديد اوربښتونه، پيچلې جغرافيوي جوړښت، او د عامه پوهاوي نشتوالی هغه لاملونه دي چې نوموړې ولسوالی يې دسيلابونو پر وړاندې زيانمنه کړېده. سيلابونه بېلابېلې اقتصادي، ټولنيزې، چاپېريالی او صحي

ستونزې د نوموړې ولسوالۍ اوسېدونکو ته پیښوي. ماشومان، سپین ږیري او ښځینه زیات تر اغېز لاندې راولي همدارنګه د څارویو، انسانانو، استوګنیزو کورونو او کرنیزو ځمکو د تخریب او له منځه تلو سبب هم کېږي. همدا د کرنیزو ځمکو تخریب د نوموړې ولسوالۍ اوسېدونکي د غذايي موادو د کمښت، ضعیف اقتصاد، فقر، بیکارۍ، بېځایه کېدنې او ناروغیو سره لاس او ګریوان کړيدي.

**وړاندیزونه**

۱. دولت باید د سیند په حریم کې د خلکو د مداخلې مخه ونیسي او د لوګر سیند حریم خپل اصلي حالت ته وګرځوي.

۲. د پیښو پر وړاندې د مبارزې ملي اداره باید د طبیعي پیښو په ځانګړي ډول د سیلاب پر وړاندې د خبر ورکونې او وړاندوینې سیستم رامنځته کړي تر څو خلکو ته پر وخت او کره مالومات ورسیږي.

۳. دولت باید د سیلابونو پر وړاندې له کرهنیزو سیمو د ساتنې پلانونه ترتیب او عملي کړي او همدارنګه د سیلابونو له اوبو څخه د ګټې اخیستې لپاره ستراتیژی جوړې کړي.

۴. دولت باید له سیلابونو څخه په زیان منونکو سیمو کې په خپل سر د ودانیو جوړولو مخه ونیسي.

## سرچينې


1. Flooding In Afghanistan: A Crisis E. Hagen 1,2 * And J.F. Teufert 1 1. 2009;179–80.
2. Gentry Ah, Lopez-Parodi J. Deforestation And Increased Flooding Of The Upper Amazon. Science (80- ). 1980;210(4476):1354–6.
3. Mena R, Hilhorst D. The (Im) Possibilities Of Disaster Risk Reduction In The Context Of High-Intensity Conflict: The Case Of Afghanistan. Environ Hazards. 2021;20(2):188–208.
4. Afghanistan Disaster Risk Reduction Strategy In Sendai Framework. Smdm. 2018;
5. Burian P, Macek R, Krepl Vr. Letter To The Editor Concept Of Agriculture Development In Logar Province , Afghanistan. 2010;43(4):366–72.
6. Rafiq F, Ahmed S, Ahmad S, Khan Aa. Urban Floods In India. 2016;(January).
7. Doocy S, Daniels A, Murray S, Kirsch Td. The Human Impact Of Floods: A Historical Review Of Events 1980-2009 And Systematic Literature Review. Plos Curr. 2013;5.
8. Mccallum I, Liu W, See L, Mechler R, Keating A, Hochrainer-Stigler S, Et Al. Technologies To Support Community Flood Disaster Risk Reduction. Int J Disaster Risk Sci. 2016;7(2):198–204.
9. Cross Cr, Cross Cr. After Action Review Of Dref Operation # Mdraf002 – Afghanistan Floods And Landslide ( 2014 ). 2014;(September).
10. Fiddes J, Fiddes J. Flood And Drought - The Afghan Water Paradox Flood And Drought - The Afghan Water Paradox.
11. Development I. Socio-Economic Impacts Of Climate Change In Afghanistan A Report To The Department For International Development. 2009;
12. Luu C, Tran Hx, Pham Bt, Al-Ansari N. Framework Of Spatial Flood Risk Assessment For A Case Study In Quang Binh Province , Vietnam. 2020;1–17.
13. Le-Huu Etjzt. Cbdrm And Poverty Reduction. 2007;35.
14. Andma. Afghanistan Disasters Risk Atlas. 2019;276.
15. Joseph Jk, Anand D, Prajeesh P, Zacharias A, Varghese Ag, Pradeepkumar Ap, Et Al. Community Resilience Mechanism In An Unexpected Extreme Weather Event: An Analysis Of The Kerala Floods Of 2018, India. Int J Disaster Risk Reduct. 2020;49:101741.
16. 1Mehrad At. Assessment Of Climate Change Impacts On Environmental Sustainability In Afghanistan. In: E3s Web Of Conferences. Edp Sciences; 2020. P. 1001.
17. 1gwimbi P. The Effectiveness Of Early Warning Systems For The Reduction Of Flood Disasters: Some Experiences From Cyclone Induced Floods In Zimbabwe. J Sustain Dev Africa. 2007;9(4):152–69.
18. Charter H, Response D. The Sphere Project [Internet]. Vol. 1, Response. 2011. 402 P. Available From: Www.Practicalactionpublishing.Org/Sphere
19. Mallett Lh, Etzel Ra. Flooding: What Is The Impact On Pregnancy And Child Health? Disasters. 2018;42(3):432–58.
20. Rehman A, Jingdong L, Du Y, Khatoon R, Wagan Sa, Nisar Sk. Flood Disaster In Pakistan And Its Impact On Agriculture Growth (A Review). Environ Dev Econ. 2016;6(23):39–42.